ISSN E: 2709-8273
ISSN P:2709-8265
JOURNAL OF APPLIED LINGUISTICS AND TESOL
JALT

JOURNAL OF APPLIED LINGUISTICS AND TESOL (JALT)

Vol.8. No.1 2025

# "د رنګونو درياب" کښې عشقيه واردات : يو تحقيقي جاج

## Love affairs in " *Da Rangunu Daryab* ": An Investigative Review

**ڈاکٹر شهاب الدين1**

ليکچرر ګورنمنټ ڈګري کالج جوڑ بونير

**ڈاکٹر بادشاه روم2**

ايسوسي ايټ پروفيسر

شعبہ پشتو يونيورسٹی آف ملاکنڈ

**Abstract**

Dr. Ali Khel Daryab is a prominent and prolific writer in modern Pashto literature, renowned for his significant contributions to both poetry and prose. To date, he has authored numerous works, including eight collections of poetry that reflect his versatility and depth as a poet. Among these, *The Da Rangunu Daryab* stands out as a remarkable anthology, showcasing his mastery in crafting ghazals. These ghazals delve into diverse themes, with love being a central focus. This article critically examines the treatment of love in *Da Rangunu Daryab*, exploring its various dimensions and the poetic techniques employed to convey this timeless theme. Through this analysis, the study aims to highlight Dr. Daryab's unique perspective and contribution to the evolution of Pashto literature.

Keywords: Dr. Ali Khel Daryab, Modern, Pashto, Poet, Writer, Significant , Contributions, Poetry, Prose, Collections, Ghazal, Various, Dimensions, Love, affairs various dimensions.

ډاکټر علي خېل درياب د پښتو په جديد ليکوالانو کښې يوه جوته نامه ده. موصوف يوه کثيرالجهت ليکوال دے . چې د ادب په ګڼو اصنافو لاس برے لري. تر اوسه ئې د پښتوادب جولۍ يو شمېر کتابونه ډالۍ کړې دي . چې پکښې د تحقيق ، تنقيد ، ترجمې ، فولکلور او افسانې نه علاوه د نعت او شاعرۍ کتابونه شامل دي . د شاعرۍ په لړ کښې "د رنګونو درياب" د ډاکټر علي خېل درياب اتمه شعري مجموعه ده. چې ټول په ټوله په غزلونو مشتمل ده. دا غزلونه پخپل ځان کښې د فکر وفن بلها ملغلرې لري او دغه شان يو شمېر موضوعات ئې هم احاطه

کړې دي . دا کتاب د پښتو ادب په غزليه برخه کښې ګټوره اضافه ده. که د دې کتاب شاعرۍ ته ګورو نو هغه د ډاکټر اباسين يوسفزي شعر راياديږي چې.

"د مردان مثال د دواړو مېنځ کښې ګنړ دے
خېبر وار تېر کړو اوس وار د مالاکنړ دے[1]

هم دغه پېشن ګوئي سل په سله ټيک ثابته شوه د څه مودې راهسې د مالاکنړ غزل لکه د خوشبو د پښتونخوا په لر او بر کښې راخور شولو. چې پکښې د نورو شاعرانو سره سره د استاذ محترم ډاکټر علي خېل درياب پرله پسې څو شعري مجموعې لکه "غزل بڼ، بهير د جمال، سندريز الهام، عطرژن، رنګونه په زنځير، د رڼاګانو سنګسار، د رنګونو لپې او دا دې اوس دا کتاب د "رنګونو درياب" دے. داکتاب ټول يو سل او پينځلس غزلې لري. چې اووۀ اووه شعرونو غزلې، اته اويا د اته شعرونو غزلې، شپږ ويشت د نهه شعرونو غزلې او درې د لسو شعرونو غزلې لري. يو غزل پکښې داسې هم شته دے چې دولس شعرونه پکښې راوړلې شوي دي. په دغه اساس د "رنګونو درياب" ټول ټال د غزلونو د شعرونو شمېره نهه سوه يو کم پنځوس ته رسي. په دے کتاب داکټر مصطفی کمال شاپانه ليکلې ده . ډاکټر عبدالروف رفيقي ډائريکټر اقبال اکادمي لاهور پاکستان پرې "دغه د رنګونو درياب" يوه بشپړه سريزه ليکلې ده. د ډاکټر وزير شادان تحقيقي ليک "د رنګونو درياب" چې درياب ته ئې د مالاکنړ د بلبل سره مخاطبه ورکړې ده.او سليم بنګش پرې "درياب د رومانيت شاعر" په سر خط يو ګټوره ديباچه د قلم په ژبه خوندي کړې ده . د دې شعري مجموعې ترون د سميع الله ګران په نوم داسې شوے دے "چې د پښتو د بقا جنګ ته ئې په تشه کاټۍ ملا تړلې ده" او خپل د وړوکوالي د لوبو او د سبق ملګري احسان الله خان په نوم دا کتاب ډالۍ کړے دے. د ټولو مينه والو او خوا خوږو مننه هم په ځاے راوړلې شوې ده چا چې په څه نه څه حواله د کتاب په

څنګه سترګه کښې کومک کړے دے. کتاب د ګران خپرندويه ټولنه سوات له خوا چاپ شوے او خپور شوے دے. کمپوزر ئې رضوان الله مومند دے. د متن ډيزائن ئې لقمان حکيم جوړ کړے دے سرپاڼې ته ابراهيم عابد او شا پاڼې ته عزيز پيرزاده ښکلاګانې وربخښلې دي. کتاب ټول ټال دوه سوه يو کم اويا مخونه لري د اکتوبر 2024ء په نېټه ناشر سميع الله ګران چاپ کړے دے بيعه ئې اووه سوه روپۍ ده. "د رنګونو درياب" شاعري زيات تره عشقيه مضامين لري. يا د هجر او هجران خبرې دي. يا د وصال ارزوګانې دي د بېلتون ناکړدې دي. تنهائي ده. انتظار دے. حسن دے . جمال دے. ښکلا ده که د رقيب غندنه ده نو د جانان بې رخي ده. تغافل دے. ګيلې دي. ناقراري ده. سلګۍ دي. اهونه دي. دردونه دي. فريادونه دي. لارې څارل دي. يادېدل دي. ژړل دي که يو خوا پيکه وصال دے نو بل خوا تريخ بېلتون دے. د کتاب د ارزښت او د شاعرۍ په باب کښې ډاکټر وزير شادان خپله رائې داسې راوړې ده.

> "ډاکټر علي خېل درياب د مالاکنډ د سردرو هغه بلبل دے چې د ګلبڼ د ګلونو نښترونو لمبې ئې په خپلو سترګو ليدلې دي. د بلبلانو، مارغانو بار کډې ئې ژړلې دي. د بارودو بوي ورله مشام سوزولې دي. دهماکو لوګو ورله په زړۀ شنې کرښې راښکلې دي خو زۀ د درياب صاحب زړۀ ته په رشتيا حېران يم چې د دې کتاب شاعري د بارودو د جنګ، د دهماکو او نورو جويلې شوو موضوعاتو نه بېخي پاکه ده. په دې کتاب کښې فقط د جمالياتي ذوق خبرې دي. د حسن وعشق قلبي واردات دي. چې ډېر په حسين انداز "د رنګونو درياب" په څېر په شعرونو کښې بهيږي."[2]

د درياب صاحب شاعري جديده او ځانګړې ده ولې چې د عشق په يو موضوع دومره ډېر اشعار ليکل او په لږ وخت کښې ليکل هم د حېرانېدو خبره ده. د محبوب

ISSN E: 2709-8273
ISSN P:2709-8265
JOURNAL OF APPLIED LINGUISTICS AND TESOL
JALT



د ښکلا او د حسن ذکر دے د رنګونو او خوشبوګانو انځور ګري ده. د مينې او د هغې سره تړلي ټول واردات او د مينې او عشق موضوعات دي.

سليم بنګش د ډاکټر درياب "د رنګونو درياب" د عشقيه شاعرۍ په باب کښې داسې ليکلي دي.

> "نن په غزل کښې هر قسمه مضامين ځائيږي خو پکار ده چې په غزل کښې صرف د مينې موضوعات اوچېړل شي ددرياب صاحب زياتره مضامين عشقيه دي. د هجر او د وصل خبرې دي زورواره جذبه لري. زړۀ وره شاعري ئې کړې ده. کله کله شوخه شوې هم ده ځينې ځايونو کښې پټ په پټه اشارو او کنايو کښې خپله نه څرګندونکي مدعا وړاندې کړې ده."[3]

عشق يو داسې کار دے روزګار دے چې انسان په ژوند کښې بنيادي حېثيت لرلے دے. که يو انسان عشق نه وي کړې نو د هغه مثال د کاڼي سره ورکولې کيږي. عشق، محبت او مينه يو فطري امر دے. عشق او ژوند لازم او ملزوم دي. يو بل سره تړلي دي. داکټر درياب هم دعشق سره تړلي لوازماتو شاعري کړې ده. رحمان بابا خو وائي چې عشق د دې جهان ابا دے دا دنيا خو رب د عشق له مخه پېدا کړې ده. عشق او محبت نه بغېر زندګي نه کيږي. درياب صاحب هم زړۀ لري. ارو مرو به عشق سره مخ شوي وي د عشق کار که زړۀ چاودون دے. شب بېداري ده. ناقراري ده. خو بيا ئې هم ځان د عشق کرونده ګر ګڼلے دي.

"زۀ درياب کرونده ګر يم د مينې
څوک مې نه شي اړوې د دغه کر نه[4]

ISSN E: 2709-8273
ISSN P:2709-8265
JOURNAL OF APPLIED LINGUISTICS AND TESOL
JALT



عشق ومحبت ئې د خپل ژوند تر ټولو لوے مرام او اهم کار ګرځولے دے.

"محبت زما د ټولو مهم کار دے
دا خو ځکه د دې کار سره مې ژوند دے[5]

یا دا شعر

"په دې کښې نور څه د وئیل نشته
د محبت نعم البدل نشته[6]

که محبت او عاشقي هر څومره د عاشق په زړۀ او ژوند اور لګوي خو بیا هم د محبت نه بغیر ژوند تېرول ناممکن دي.

"بیا هم زۀ تا ته محبته درناوې لرمه
خبر دے که ما ته ګام په ګام باندې دې اور اولګوو[7]

د عشق کار داسې وي چې انسان په ځان پوهه شوې هم نه وي خو د چا د زلفو، نازک وجود، ښکلا، ښائست، نازوجمال او اداګانو په دام کښې راګېر شوي وي. او دغه مینه ئې بیاپه سترګو کښې تر سترګو سترګو کیږي. زړۀ ئې پسې خوږیږي. ولې چې حسن خو حسن وي. جمال وي. ښکلا وي. د جمال او حسن په باب له ئې دا اشعار اوګورئ.

"څومره بدرنګه ده دا نوره دنیا
ستا د جمال د رنګینۍ نه اخوا[8]

"هاغه حسن بې بدله بې مثاله
د روح تل ته مې کوزیږي خو سم ډېر"[9]

ISSN E: 2709-8273
ISSN P:2709-8265
JOURNAL OF APPLIED LINGUISTICS AND TESOL
JALT



یا دا اوګورئ.

"خدایه دریاب له چې دې زړۀ ورکړے
خدایه نو ثنګ به د جمال اوړي"[10]

کله کله بنده په عاشقۍ کښې دومره زور واخلي چې د محبوب نه لیدل ورته قیامت جوړ شي. دغه وخت چې د عاشق کوم حالت وي هغه دریاب داسې بیان کړے دے.

"بس په تا پسې مې دغسې حالت وي
لکه ثوک بې دخله وي د خپل کهاله نه"[11]

عاشقي ثه ده ملامتیا ده. پېغور دے، ندامت دے. الزامات دي. ستر علي خان هم عاشقي د عېن شین او قاف نه عقل شرم او قرارے ښیلي ده چې ثوک عاشقي کوي نو په هغۀ کښې به نه عقل وي نه به ئې په شرم ثه کار وي او نه به قرارے مومي لکه داسې

"عقل شرم قرارې د سړي یوسي
لفظ د عشق به خبر درکړي له دے رازه"[12]

هم دغه رنګ دریاب صاحب په عاشقۍ کښې د بې بنیاده الزامونو سره مخ شوې دے د بلها بلها قیصو سره ئې ژوند په عذاب شوے دے لکه داسې.

"خلقو بې بنیاده الزامونه راتپلي دي
خلقو د بلها بلها قیصو سره مخ کړے یم"[13]

یا دا شعر اوګورئ.

"بې بنیاده الزامات راباندې لګي
بې دلیله حوالې دي زړۀ مې چوي"[14]

یا دا شعر اوګورئ.

"حسنه څه بلا ئې ستا د لاسه ما
ټول په الزامونو کښې ژوند کړے دے"[15]

عاشقي څه ده ناکام دے. ملازې دي. په پښتنه ټولنه کښې مینه غټ جرم ګڼلے شي. چې چا هم مینه کړې ده نو خلقو د خندا جوړ شي هر ځاے ورته خلق د مجرم په نظر ګوري. کله کله خو مینه کښې عاشق کله مجنون شي د وړو او لویو د خندا شي دغه حالت دا سې بیانوي.

"ما ته ستا نامه قصداً اخلي چې قار شم
ستا د کلې واړۀ ځومره بلها وران دي"[16]

عاشق یو خوا که د وړو لویو خپلو او پردو د خندا شي نو بل خوا چې کله جانان هم ستمګر شي او د جانان بې رخي او تغافل له سېوا شي نو عاشق که هر څومره ناکام کوي نو چرته کیږي لکه دا شعرونه.

"سلسلې د بې رخۍ دې کړه راغونډې
توان زما ګورې نور نشته په ناکام کښې[17]

یا دا شعر.

"ستا چې بې مخه بې رخۍ له حده اووتلې
زما ورتې ورتې سلګۍ د حده اووتلې"[18]

ISSN E: 2709-8273
ISSN P:2709-8265
JOURNAL OF APPLIED LINGUISTICS AND TESOL
JALT
JOURNAL OF APPLIED LINGUISTICS AND TESOL (JALT)
Vol.8. No.1 2025

عاشقي څه وي د عاشق د زړۀ مدعا او غرض هم د محبوب ليدل وي، د محبوب وصال وي چې کله په عاشقۍ کښې وصال نه وي نو عاشق بې ارامه وي جدائي غضب ده. جدائي اضطراب دے لېونتوب دے. خو وصال هم اکثر د عاشق له پاره اور شي ولې چې اکثر وصال ډېر لږ وخت له پاره وي. درياب صاحب وصال د جنتونو غېږه ګرځولې ده او ولې به نه وي چې چا د هجران سور اور ليدلے وي.

"ده د وصال د جنتونو غېږه
د قيامت خېزې جدايۍ نه اخوا"[19]

کله کله ليدل کتل هم اوشي خو څومره سخته چې عاشق تېره کړې وي د هغې صله مېلاو شي خو پوره نه وي لکه د حمزه بابا شعر.

"ما حمزه چې د بېلتون تيرې ژړلي
لکه شمع زما کور ته خندان راغے"[20]

يا دا شعر چې څوک په طمع ناست وي وخت نه تېرېږي نو يوه لحظه لکه د کال شي.

"په طمع طمع د وصال اوړي
يوه لمحه لکه د کال اوړي"[21]

يا داشعر.

"د وصال مزه خو تا په سيند لاهو کړه
چې وهلے دے ګل مخې تربوزک دے"[22]

جدائي په عاشقۍ کښې ډېره سخته مرحله وي. کله کله دغه موده اوږده هم شي. يو خوا د زړۀ صبرېدل ګران وي بل خوا هجران زغمل هم د برداشت نه بهر وي.

ISSN E: 2709-8273
ISSN P:2709-8265
JOURNAL OF APPLIED LINGUISTICS AND TESOL (JALT)
Vol.8. No.1 2025

د هجران، بېلتون او جدايۍ ژوند ټول په ټوله عذاب وي د خوشحال بابا د رنتنبهور د ژوند سره ئې د هجران موازنه راوړي ده.

"سيزي مې د چا د يادو اور په تنهايۍ کښې دے
مړ به مې کړې دا لا څومره شور په تنهايۍ کښې دے"[23]

يا دا شعر د دغې خبرې څومره پخته دلالت کوي.

"دا په بېلتانه کښې ستا د مينې د شدت چپې
کور راته جانانه رنتنبهور په تنهايۍ کښې دے"[24]

جدائي درياب د سور تنور سره ګرځولې ده. جدايۍ کښې سکون په سړي حرام وي. بېلتون که لنډ هم وي خو د عاشق له پاره اوږد شي.

"جدائي د اضطراب نه عبارت ده
زندګي ئې د عذاب نه عبارت ده"[25]

او يا دا شعر.

"جدائۍ ښو زړۀ په غنو کښې راښکل دي
ته چې تلې نو ما ګڼل لکه محشر شو"[26]

يا دا شعر.

"که ئې څوک رانه توضيح غواړي دريابه
جدائي لکه دويم نوم د سور تنور دے[27]

يا دا شعر.

"جدايۍ کښې دې څه بل شانتې ملال يم
د سکون د تصور نه زۀ کنګال يم"[28]

ISSN E: 2709-8273
ISSN P:2709-8265
JOURNAL OF APPLIED LINGUISTICS AND TESOL
JALT
JOURNAL OF APPLIED LINGUISTICS AND TESOL (JALT)
Vol.8. No.1 2025

په جدایۍ او بېلتون کښې چل پېرچل غنې غنې وي. هر څه په بنده پورې عذاب شي کله کله چې په عاشقۍ کښې مازیګر بې له یاره تېرېږي نو هغه وخت په عاشق اضطراب راځي. د دریاب په شاعرۍ کښې د بېلتون یو ژور تاثر ښکاري.

"ستا یادونه مې احساس کړي شوکې پوکې
د بېلتون مازیګري دي خدائے په خبر کړي"[29]

یا دا شعر هم د کتلو دے چې دریاب د بېلتون ماحول ته په کوم نظر ګوري.

"بېلتانه مې په اعصابو غرونه ایښي
څه ساه ډوبي څه چیچونکے چاپېرچل دے"[30]

یا دا شعر.

"ستا د بېلتون د اور په سرو سکروټو
شپې مې په ډېر لوئے اذیت کړې دي"[31]

په عاشقۍ کښې د انتظار مرحله ډېره ګرانه مرحله وي. انتظار که په جدایۍ کښې وي او که په وصال کښې خو انتظار ګران وي په انتظار کښې د ملاقات او دیدن خوارۀ پراته وي ډاکټر اسرار د انتظار خواره داسې بیانوي.

"ستا د انتظار له خوږو خوند اخلم
ستا دیدن که نن نه وي سبا به شي"[32]

انتظار که یوه ګهړۍ وي که اونۍ وي که کال وي او ټول عمر خو ډېر چیچونکي وي. عاشق د سحر نه تر ماښامه پورې په انتظار کښې وي او دغه رنګ امروزه صورت حال وي. کله کله خلقو ته خپله ګناه هم معلومه نه وي خو د دیدن په طمع په انتظار پرې وخت تېرېږي.

"انتظار مې اور بل کړے په لېمو کښې
سره بخرې مې رادانګي د نظر نه"[33]

یا دا شعر.

"زۀ دې د چیچونکي انتظار په اور کښې ناست یمه
رنګ مې په غمونو سوې سکور په تنهایۍ کښې دے"[34]

یا داشعر.

"انتظار دے انتظار دے منتظر یم
مینوګۍ وایه ما کوم کړے قصور دے"[35]

یا دا شعر.

"بیا تازه مې د زړو هیلو پرهر شو
بیا د نوي انتظار نوے سحر شو"[36]

یا دا شعر.

"چې د حسن د شاهکار سره مې ژوند دے
د زړۀ چاودې انتظار سره مې ژوند دے"[37]

خو عاشق هم عاشق وي او بیا پښتون عاشق خو ببخي په یوه پوهېږي. که په عاشقۍ کښې ورته هره ګرانه راځي خو دۀ ورته زړۀ سندان کړے وي. د خپلې نه نه منع کېږي.

"ستا د انتظار نه به لاس واخلمه
سیخ به مې د زړۀ نه ښنګه اوباسم"[38]

په عاشقۍ کښې د جانان انتظار که ګران وي خو چې کله دغه انتظار په دیدن بدل شي نو عاشق د نوي ژوند سره مخ شي چې د خوشحالو وي.

"انتظار به دې ځپلم
ښه شوه دا ظلم خو تم شۀ"[39]

خو کله کله داسې هم اوشي چې ملاقات اوشي د انتظار لمحې ختمې شي خو ملاقات ډېر لږ وي بیا د تلو او رخصتېدو د وخت کېفیت هم د عاشق د لیدلو وي.

"دغه دے اوس راغلے د راتلو سره وې ځمه نو
زۀ د مرګونو د سورو سره مخ کړے یم"[40]

او کله چې جانان د تللو خبره اوکړي نو عاشق ورته داسې ګویا شي.

"د انتظار خو هم څه حد وي چې مئین ئې اوکړي
ستا انتظار د څه مودې نه زما غور کړے دے"[41]

په عاشقۍ کښې یوه داسې مرحله چې قیامت خېزه وي هغه د رقیب راپېدا کېدل او جوړېدل دي. رقیب یو داسې کس دے چې د هغه د حسن معیار هم د عاشق برابر وي. ولې چې د دواړو انتخاب یو شان وي. رقیب د عاشق د لارې ازغے وي کله کله معشوق د عاشق په رقیب مهربانه شي نو بیا معشوق د هغۀ ترځنګ ناستې پاستې کوي. دغه راز ونیاز اکثر په پټه کېږي. خو عاشق ئې چرته زغمي. د ډاکټر اباسین دغه شعر دلته فټ راځي لکه.

"چې د رقیب نه یار په سترګو کښې سلام اخلي
ګوره په کوم انداز زما نه انتقام اخلي"[42]

دریاب صاحب هم دغه کېفیت داسې راوړے دے چې رقیب خناس دے. شېطان دے د هغه خبره منل، د هغه سره هم کلام کېدل مصیبت دے.

"دا ځلې خو راغلې د رقیب سره
دا ځلې راتګ دې په ما زهر شو"[43]

خو که معشوق د رقیب سره روان وي او عاشق ته لاس په نام شي نو عاشق ئې ممنون او مشکور وي لکه.

"لاس دې د لرې ما ته موچه کړلو
تا په رقیب مننه اور اولګوو"[44]

خو کله کله معشوقه د عاشق په صلاح مشوره وي او د رقیب د لیدلو خطره وي. اکثر رقیبان د کور خلق هم وي خپل خپلوان هم وي. نو دغه کیفیت داسې بیانوي.

"تا له درځمه خو بهانه به ګورم
رسم رقیب خنزیر مې سترګو کښې دے"[45]

عشق څه دے لېونتوب دے. ناقراري ده. بې شرمي ده. زړۀ به غمژن وي. خفګانونه دي. خوشحالي نشته لکه.

"دا د روح ناقراري چې سړے وژني
دا د زړۀ خانه خراب نه عبارت ده"[46]

خو د خوبانو، ګل رخو او ګل رنګو یادول هم په عاشقۍ کښې د دریاب په نزد د اجر وثواب کار دے.

"یادونه د ګلګونو
زۀ خو ویمه د ثواب نه عبارت ده"[47]

یا دا شعر.

"یو سړے راته یادېږي خو سم ډېر
په لېمو کښې مې غړېږي خو سم ډېر"[48]

که په عاشقۍ کښې د سړي روح بې قراره وي. معشوق ئې ډېر زیات یادیږي نو په بنده وخت چرته تېریږي. پام د بدلولو کوشش هم څه فائده نه راوړي لکه دا شعر.

"تۀ راته خپل حال دریابه اوویه
ما باندې والله که یوه ګهړۍ اووځي"[49]

که عاشق پسې معشوق ډېر سوال جواب راولیږي. بندیان ورته ډېر نصیحتونه وکړي چې بس زړۀ صبر کړه هغه اوس ستا نه ده د بل شوه خو عاشق چرته صبریږي پندو نصیحت هم بې فائدې وي.

"ټیک ده ما نه به هغه واوري دریابه
خو چې زۀ به خنګه اوړم د هغۀ نه"[50]

د جانان تغافل هم قیامت وي. که یو خوا ته جانان غافل شي نو بل خوا به خلق پېغورونو ته زور ورکړي او د عاشق ژوند د قسما قسم کشالو سره مخ شي.

"ستا بې کچه تغافل دې خداې په خبر کړي
د زړۀ زخم چې په تا پسې ګزک دے"[51]

"د جانان د تغافل په اور ئې اوسوم
د ضمیر د پېغورونو سره مخ یم"[52]

یا دا شعر.

"د هغه د تغافل حدونه نشته
زهٔ چې چا دپاره ګوره زندګي کووم"[53]

یا دا شعر.

"ډېر خوارهٔ یاران د یو بل نه جدا شي
فاصلې د تغافل نه راپېدا شي"[54]

بهر حال عاشقي څه ده خو د زړهٔ وینې څښل دي. ژوند په اور نیول دي. عاشق به خوار وي د رېبار به محتاجه وي په عاشقۍ کښې لارې څارول وي. ورتې ورتې سلګۍ وي. د وصال په طمع ناسته وي. ګیلې وي. تنهائي وي. زړهٔ بې قراره وي او ځان له جدا ګرځېدل وي دغه ټول کېفیات ئې ډېر په هنر سره بیان کړي دي لکه لارې څارل اکثر د دواړو طرفونو نه کیږي خو چې د چا وس نه رسیږي نو ډېره ګرانه شي.

"لارې په غلا باندې دریاب ته څاري
اکثر د کور په دېواله ژاړي"[55]

عاشقي څه ده سلګۍ دي آهونه دي. ویرونه دي. خو ځینې د جدایۍ سلګۍ وي او ځیني د رخصتۍ وي.

"دا ځل چې ته زما نه تلې لېونۍ
څه په ورتو ورتو سلګو پاتې یم"[56]

ISSN E: 2709-8273
ISSN P:2709-8265
JOURNAL OF APPLIED LINGUISTICS AND TESOL
JALT



کله کله عاشقي خوند راپرېږدي. ملاقاتونه وي. وصال وي. ګیلې وي. خو مینه خو هم دغه ده چې ګیلې وي خفګان وي او شرمېدل وي. لکه د روغاني بابا دا شعر.

"شپه چې د وصال وي ټوله خوښه به زما وي
دا اجر جانانه د هجران به ورنه غواړمه"[57]

هم دغه رنګ دریاب د عاشق د زړۀ خبره کوي چې کله کله انسان بې وسه وي. په خپل اختیار کښې نه وي لاس ئې د دنیا په چارو نه رسي نو بیا دغه د ګیلو مانو خبره داسې کوي.

"خبر شوې یم چې ما نه دې ګیلې دي
خبر شوې یم چې ما ته ښه غصه ئې"[58]

او یا دا شعر اوسنجوئ چې مینه څه ده خو ګیلې دي خفګانونه دي او دغه سلسله ده روانه ده.

"ماڼے ماڼے ګیله ګیله ده مینه
د خفګانونو سلسله ده مینه"[59]

بهر حال دریاب صاحب "د رنګونو دریاب" غزل ټول په ټوله عشقیه تذکرې دي. غزل هسې هم د عشقیه او روماني موضوع له پاره جوړ شوے دے. عشق که هر څه د خفګانونو سلسلې دي د وصال او هجران خبرې دي. د محبوب بې رخۍ دي. د بېلتون دلاسه د مینې په اور سوزېدل دي، جدائي ده. تنهائي ده. انتظار دے، یادونه دي، دردونه دي خو بیا هم مینه ورته د ګلاب په شان ښکاري او د ګلرنګو ګلګونو یادول ورته ثواب نه عبارت ښکاري

"زما مینه خو د رنګ او د خوشبو ده
زما مینه د ګلاب نه عبارت ده
یادونه د ګلرنګو د ګلګونو
زۀ وبمه د ثواب نه عبارت ده"[60]

درياب ته خپل محبوب او د هغه ليدل د هر څه نه غوره دي او د محبوب هېرول ورته د هر کار نه ګران او مشکل ښکاري لکه دا شعرونه.

"هغه دوه سترګې چې نه وینم دریابه
زۀ ګڼم لکه نسکور واړه اسمان دے"[61]

يا دا شعر.

"هغه ښکلے چې زما د زړۀ درزا ده
د وختونو په سراب کښې رانه ورک دے"[62]

خو بيا هم محبت هېرول تر هر څه نه ګران کار دے. د سړي ژوندون عذاب کړي.

"چې تسمې ئې د سړي وستلي نه وي
هېرول د محبت دومره اسان دي"[63]

او بيا محبت ورته تر ټولو مهم او غوره کار ښکاري او محبت ورته د جنتونو نه هم ښکلے او ښائسته ښکاري لکه چې وائي.

"محبت د جنتونو نه ښائسته دے
محبت به درته دغسې مفهوم کړم"[64]

ISSN E: 2709-8273
ISSN P:2709-8265
JOURNAL OF APPLIED LINGUISTICS AND TESOL
JALT



خو لنډه خبره دا ده چې د دریاب په نزد د عشق کار تر ټولو غوره او علی کار دے. د دې له پاره که ټول عمر زده کړه حاصل شي نو هم به کمه وي. دا یو داسې کار دے چې ډېره بشپړه معنی او وضاحت لري. محبت یو داسې کار دے چې سړے پکښې د کار شي.

"شېخه یو عمر غواړي دا د پوهېدو له پاره
د محبت دومره معنې دي هډو نه ختمیږي"[65]

ددې پورته بحث نه پس مونږ په دې نتیجه رسو چې د ډاکټر علي خېل دریاب د شاعرۍ عموما" او ددې کتاب خصوصا" بنیادي موضوع عشق و محبت او ددې واردات دي . دغه موضوع چې یوه عالمګیره موضوع ده او د ټولې نړۍ د شعر مشترکه موضوع ده ، په هره ژبه او هر ادب کښې هم په دې افاقي موضوع لیکل شوې دي او لا کیږي ، خو دا یوه ناتمامه موضوع ده. په دې باندې د لیکلو یا شاعرۍ تخلیق کولو انتها نشته . په دې چې عشق یوه جذبه ده او دا جذبه د هر شاعر جدا جدا وي بیا ددې سره تړلې واردات د هر چا بېل بېل وي ځکه نو هر څوک او هر شاعر ددې جدا جدا رنګ او بیان لري . هم دا وجه ده چې دا موضوع نه زړیږي بلکې چې څومره پرې وخت اوړي نو لکه د ایراني قالین ئې ارزښت لا زیاتیږي . یا به داسې اووایو چې توره پیشو ده چې څومره ئې وینځې نو دومره توریږي . او دغه خبرې د ډاکټر علي خېل دریاب د کتاب " د رنګونو دریاب " دبره څېړلې شوو شعرونو نه لکه د نمر په ډاګه ده .

ISSN E: 2709-8273
ISSN P:2709-8265
JOURNAL OF APPLIED LINGUISTICS AND TESOL
JALT



# حوالې

[1] اباسین یوسفزے، مشموله سریزه "وار د مالاکنډ دے"، کودري اقبال شاکر، پېښور، یونیورستي بک ایجنسي خېبر بازار، دریم ځل، 2015، مخ 16

[2] درياب، علي خېل، ډاکټر، د رنګونو درياب، مشموله سریزه د رنګونو درياب از ډاکټر وزیر شادان، سوات، ګران خپرندویه ټولنه، اکتوبر 2024، مخ 22

[3] درياب، علي خېل، ډاکټر، د رنګونو درياب، مشموله سریزه، "درياب د رومانیت شاعر" از سلیم بنګش، سوات، ګران خپرندویه ټولنه، اکتوبر 2024، مخونه 28،29

[4] درياب،علي خېل، ډاکټر، د رنګونو درياب، مخ 87

[5] همدغه اثر، مخ 66

[6] همدغه اثر، مخ 106

[7] همدغه اثر، مخ 91

[8] همدغه اثر، مخ 127

[9] همدغه اثر، مخ 59

[10] همدغه اثر، مخ 43

[11] همدغه اثر، مخ 161

[12] د علي خان دیوان، د چاپ زیار، سید عبدالله باچا، پېښور، دانش خپرندویه ټولنه، قصه خوانی بازار 1383/2005 ل، مخ 51

[13] درياب، علي خېل، ډاکټر، د رنګونو درياب، مخ 189

[14] همدغه اثر، مخ 236

[15] همدغه اثر، مخ 213

[16] همدغه اثر، مخ 132

[17] همدغه اثر، مخ 98

[18] همدغه اثر، مخ 172

[19] همدغه اثر، مخ 126

[20] حمزه شینواري، کلیات، سریزه او زیار محمد اصف صمیم، پېښور، یونیورستي بک ایجنسي، دویم ځل، 1392/2013 ل ش، مخ 559

[21] درياب، علي خېل، ډاکټر، د رنګونو درياب، مخ 42

[22] همدغه اثر، مخ 145

[23] همدغه اثر، مخ 60

[24] همدغه اثر، مخ 61

[25] همدغه اثر، مخ 40

[26] همدغه اثر، مخ 75
[27] همدغه اثر، مخ 65
[28] همدغه اثر، مخ 92
[29] همدغه اثر، مخ 85
[30] همدغه اثر، مخ 77
[31] همدغه اثر، مخ 152
[32] ډاکټر اسرار، د ژوند نغمه، پېښور، دانش خپرندویه ټولنه، دویم ځل، 2009، مخ 106
[33] دریاب، علي خېل، ډاکټر، د رنګونو دریاب، مخ 86
[34] همدغه اثر، مخ 61
[35] همدغه اثر، مخ 65
[36] همدغه اثر، مخ 74
[37] همدغه اثر، مخ 66
[38] همدغه اثر، مخ 49
[39] همدغه اثر، مخ 162
[40] همدغه اثر، مخ 189
[41] همدغه اثر، مخ 194
[42] اباسین یوسفزے، غورځنګونه، لاهور، ندیم یونس پرنټرز، لسم چاپ، 2013، مخ 29
[43] دریاب، علي خېل، ډاکټر، د رنګونو دریاب، مخ 78
[44] همدغه اثر، مخ 103
[45] همدغه اثر، مخ 261
[46] همدغه اثر، مخ 41
[47] همدغه اثر، مخ 40
[48] همدغه اثر، مخ 58
[49] همدغه اثر، مخ 169
[50] همدغه اثر، مخ 81
[51] همدغه اثر، مخ 145
[52] همدغه اثر، مخ 138
[53] همدغه اثر، مخ 232
[54] همدغه اثر، مخ 226
[55] همدغه اثر، مخ 51
[56] همدغه اثر، مخ 44
[57] روغانے، عبدالرحیم، نوي نغمه، پېښور، یونیورسټي بک ایجنسي ، څلورم ځل، 2013، مخ 285
[58] دریاب، علي خېل، ډاکټر،د رنګونو دریاب، مخ 83

ISSN E: 2709-8273
ISSN P:2709-8265
JOURNAL OF APPLIED LINGUISTICS AND TESOL
JALT



[59] همدغه اثر، مخ 108

[60] همدغه اثر، مخ 40

[61] همدغه اثر، مخ 129

[62] همدغه اثر، مخ 97

[63] همدغه اثر، مخ 73

[64] همدغه اثر، مخ 256

[65] همدغه اثر، مخ 183